د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage:* https://journal.salam.edu.af
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# په پاکستان کې د افغان کډوالو اوسنۍ وضعیت؛ ننګونې او حللارې

# The Situation of Afghan Refugees in Pakistan: Challenges and Solutions

څېړنوال عبدالصبور مبارز[1]

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n4.2025


## لنډیز

افغانستان په نړۍ کې خلورم هېواد دی چې  زیات وګړي یې کډوال شوي دي. د افغانانو د کډوالۍ ستر لامل جګړه او اقتصادي ستونزې دي. پاکستان ته د افغانانو د کډوالۍ بهیر په ۱۹۷۹ز.کال کې هغه مهال پیل شو کله چې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ. د دې څېړنې موخه په پاکستان کې د افغان کډوالو د وضعیت څېړل، ننګونې یې رابرسېره کول او هغې ته د حللارو وړاندې کول دي. د څېړنې بنسټېزه پوښتنه دا ده چې په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت څنګه دی؟ او په دې برخه کې کومې ننګونې موجودې دي؟ د څېړنې موندنې ښايي چې په اتیایمو کالونو کې په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت ښه و، خو له نویمو کالونو راورسته تر اوسمهال پورې په دغه هېواد کې د افغان کډوالو سره ښه وضعیت نه کېږي او افغان کډوال په دغه هېواد کې له امنیتي، تعلیمي، اقتصادي، تخنیکي او ګڼو نورو ننګونو سره مخامخ دي. په دې څېړنه کې د څېړنې له تشریحي-تحلیلي مېتود او کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخیستل شوې ده


**کلیدي کلمې: افغان کډوال، پاکستان، مهاجرت، جګړه، اقتصاد، ننګونې، حللارې.**

ISSN: 3078-9575 (Print)
ISSN: 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸
تعداد صفحات: ۲۳
از صفحه ۵۳ تا ۷۵

[1]. د افغانستان د علومو اکاډمي د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز علمي غړی دی. 0093788490472، ab.Saboor405@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.

## سریزه

جګړې او شخړې د نورو بدمرغیو ترڅنګ د کډوالۍ ستونزه هم زېږوي او پاکستان ته د افغانانو د کډوالۍ یو ستر لامل همدا جګړه ده. سیاسي ستونزې، بې کاري، ټولنیزه نابرابري او د بشري حقونو نقض هغه نور مهم لاملونه دي چې انسانان کډوالۍ ته مجبوروي.

د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري د ۲۰۲۴ز. کال د راپور پر بنسټ په نړۍ کې ۳۷,۹ میلیونه وګړي په کډوالۍ کې ژوند کوي چې ٦٥ سلنه یې یوازې له څلورو هېوادونو څخه دي، سوریه ٦,۳ میلیونه، وینزویلا ٦,۲ میلیونه او اوکراین او افغانستان ٦,۱ میلیون کډوال لري،[2] یعنې افغانستان په نړۍ کې د کډوالۍ له مخې په څلورم نمبر دی. د افغانستان له دې ٦,۱ میلیونه کډوالو څخه یې پنځه میلیونه پنځه لکه شپږ ویشت زره او اوه سوه کډوال په ګاونډیو هېوادونو کې ژوند کوي، چې تفصیل یې په لاندې ګراف کې کتلی شې.

| شماره | هېواد | د کډوالو شمېر | د راپور تاریخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | ایران | 3.752.300 | ۲۰۲۴ز. د جون ۳۰ |
| ۲ | پاکستان | 1.751.500 | ۲۰۲۴ز. د جون ۳۰ |
| ۳ | تاجکستان | 10.400 | ۲۰۲۴ز. د جون ۳۰ |
| ۴ | ازبکستان | 9000 | ۲۰۲۴ز. د جون ۳۰ |
| ۵ | ترکمنستان | 3500 | ۲۰۲۴ز. د جون ۳۰ |

**Source:** https://data.unhcr.org/en/situations/afghanistan

### د څېړنې اهمیت او اړتیا

افغانستان له پاکستان سره د نورو ګاونډیانو په پرتله اوږده پوله لري او نږدې څلورنیمې لسیزې کېږي چې په پاکستان کې افغان کډوال اوسېږي، په پاکستان کې د افغان کډوالو د حقوقو، خراب وضعیت او په زور ایستلو پر سر د دواړو هېوادونو اړیکې ځینې وخت خرابې شوې هم دي، دا چې د افغان کډوالو موضوع د دواړو هېوادونو پر دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي اړیکو منفي اغېزه لري، نو اړتیا ده چې دا مهمه موضوع وڅېړل شي، ننګونې یې روښانه او د حللارې ورته په نښه شي.

### د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په پاکستان کې د افغان کډوالو د وضعیت څېړل، ننګونې یې رابرسېره کول او هغې ته د حللارو وړاندې کول دي.

### د څېړنې پوښتنه

د څېړنې بنسټیزه پوښتنه دا ده چې په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت څنګه دی؟ او په دې برخه کې کومې ننګونې موجودې دي؟

[2] UNHCR, "Refugee Data Finder", the UN Refugee Agency, (2024). Access link: https://www.unhcr.org/refugee-statistics

**د څېړنې فرضیه**

د فرضیې په ډول ویلای شو چې په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت خراب دی او په دې برخه کې ستره ننګونه دا ده چې پاکستان له افغان کډوالو څخه پر افغان حکومت د فشار د وسیلې په توګه ګټه اخلي چې له امله یې افغان کډوال د اجباري اخراج، تبعیض او زورنې سره مخامخ کېږي.

**د څېړنې مېتود**

په دې څېړنه کې د څېړنې له تحلیلي-تشریحي مېتود او کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**پاکستان ته د افغانانو د کډوالۍ تاریخي بهیر**

په ۱۹۷۹ز. کال کې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، چې له امله یې نږدې درې نیم میلیونه افغانان پاکستان ته کډوال شول. د پاکستان حکومت د راپور پر بنسټ په ۱۹۸۰ز. کال کې هره میاشت له لس زرو څخه تر نوي زرو پورې افغانان پاکستان ته کډوال کېدل، چې تر ۱۹۸۴ز.کال پورې یې شمېر درې نیم میلیونو ته ورسېده.[3] په ۱۹۸۹ز. کال کې شوروي اتحاد په افغانستان کې ماتې وخوړه او له دغه هېواد څخه وویستل شول، خو بیا هم افغان کډوال خپل هېواد ته د ډاکټر نجیب د حکومت له امله ستانه نشول، خو کله چې په ۱۹۹۲ز. کال کې د ډاکټر نجیب حکومت سقوط شو؛ له هغې وروسته د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري (UNHCR) د راپور پر بنسټ نیمایي افغان کډوال بېرته خپل هېواد ته ستانه شول.


تر ۲۰۰۵ز. کال پورې په پاکستان کې د افغان کډوالو دقیقه احصایه نه وه ترسره شوې او له همدې امله د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري هغوی ته د مرستو په رسولو کې له ستونزو سره مخامخ وو. په ۲۰۰۵ز. کال کې پرېکړه وشوه چې د پاکستان احصایې سازمان (Pakistan Census Organization (PCO)) به د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري په مالي او تخنیکي همکارۍ د افغان کډوالو سرشمېرنه ترسره کړي، په همدغه کال کې سرشمېرنه پای ته ورسېده او معلومه شوه چې په پاکستان کې پنځه لکه اته څلوېښت زره او یو سلو پنځه (۵۴۸۱۰۵) کورنیو کې درې میلیونه نهه څلوېښت زره او دوه سوه اته شپېته (۳۰۴۹۲۶۸) افغان کډوال اوسېږي.

چې په دې کې ٦٢ سلنه یې په خیبرپختونخواه کې، ۲۵ سلنه په بلوچستان کې، ۷ سلنه په پنجاب او ۴ سلنه په سېند کې اوسېږي. په دې کډوالو کې ۵۸ سلنه له کمپونو بهر او ۴۲ سلنه د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري له لوري جوړ شویو کمپونو کې اوسېدل.[4]

---

[3] Jane Thomas, "Effects of Afghan Refugees on Pakistan. Ecological Fact-Finding Study Report", Peshawar, January 1995 Report. (1995): 3. Access link: https://drive.google.com/file/d/146D5uwwEyZgupcaM6ABN0M5ApyLPSCuU/edit

[4] Jack Redden, "Pakistan's census of Afghans provides first detailed profile of the population", UNHCR, (2005). Access link: https://www.unhcr.org/news/pakistans-census-afghans-provides-first-detailed-profile-population




**Source:** Jack Redden, "Pakistan's census of Afghans provides first detailed profile of the population", UNHCR, (2005). Access link: https://www.unhcr.org/news/pakistans-census-afghans-provides-first-detailed-profile-population

همدارنگه په دې افغان کډوالو کې ٦٢ سلنه یې د افغانستان له شپږو ولایتونو؛ ١٧ سلنه ننگرهار، ١١ سلنه کابل، ١٠ سلنه کندهار، ٨ سلنه کندز او ١٦ سلنه یې له پکتیا او بغلان څخه وو. په دې کډوالو کې ١٩،۴ سلنه یې له پنځو کالو څخه کم عمر لرونکي کوچنیان وو.[5]

په ٢٠٠٦ز. کال د فبرورۍ په میاشت کې پاکستان حکومت د دریو افغان کمپونو د تړلو پرېکړه وکړه چې یو د کچه گهړۍ کمپ و چې یو پنځوس زره او دوه کمپونه په بلوچستان کې وو چې اته اویا زره افغانان په کې اوسېدل، چې د دې کمپونو اکثره کډوال بېرته خپل هېواد ته راستانه شول. د ٢٠٠٨ز.کال په اپریل میاشت کې جلوزو کېمپ هم وتړل شو او اوسېدونکي یې افغانستان ته ستانه کړای شول. دغه کمپ له پېښور ښار څخه په شلوېښت کیلومترې کې پروت و.[6] د ملگرو ملتونو د کډوالۍ اداري د شمېرو پر بنسټ په دغه کمپ کې له اتیا زرو څخه تر یو لک پورې افغان کډوال اوسېدل.[7] لنډه دا چې د

[5] Nasreen Ghufran, "Afghan Refugees in Pakistan; Current Situation and Future Scenario", University of Peshawar, (2018): 5-6. Access link: https://www.researchgate.net/publication/329040563_Afghan_Refugees_in_Pakistan_Current_Situation_and_Future_Scenario


[6] Eduardo Cue, "Notorious Jalozai refugee camp finally closes; Lubbers hails move", UNHCR, (2002). Access link: https://www.unhcr.org/news/notorious-jalozai-refugee-camp-finally-closes-lubbers-hails-move#:~:text=PESHAWAR%2C%20Pakistan%2C%20Feb.%2012%20%28UNHCR%29%20-%20The%20last,people%20lived%20and%20many%20died%20in%20deleterious%20conditions

[7] Golam Rasol Hasas, "Jalozai camp closed, returnees face difficulties at home", The New Humanitarian, (2008). Access link: https://www.thenewhumanitarian.org/report/78506/afghanistan-jalozai-camp-closed-returnees-face-difficulties-home

۲۰۱٦ز.کال د ډسمبر میاشتې تر پای پورې په پاکستان کې یو میلیون درې لکه څلور څلویښت زره او نهه سوه دوه اویا (۱۳۴۴۹۷۲) افغان کډوال پاتې شول او نور ټول بېرته خپل هېواد ته ستانه کړای شول.[8]

د ملګرو ملتونو د کډوالۍ ادارې د ۲۰۲۳ز. کال د جولای میاشتې د راپور پر بنسټ په ۲۰۲۱ز.کال کې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته له شپږ سوه زرو زیات افغانان یو ځل بیا پاکستان ته کډوال شوي چې ټول یې بې اسنادو دي.[9]

په ۲۰۲۳ز. کال کې له پاکستان څخه د افغان کډوالو د اجباري اخراج څخه مخکې د پاکستان حکومت د معلوماتو پر بنسټ په دغه هېواد کې ۴ میلیونه افغان کډوال اوسېدل چې له دې یې ۲,۳ میلیونه کډوالو د حکومت له خوا تایید شوي اسناد لرل او پاتې ۱,۷ میلیونه کډوالو اسناد نه درلودل او ناقانونه اوسېدل. د ۲۰۲۳ز.کال د اکتوبر پر درېیمه نېټه د پاکستان حکومت اعلان وکړ چې ټول ناقانونه افغان کډوال به د اکتوبر میاشتې تر پای پورې خپل هېواد ته ستنوي.[10] د اسلامي امارت د ویاند ذبیح الله مجاهد په وینا نږدې یوه نیمه میاشت کې یعنې د نومبر میاشتې تر شلمې نېټې پورې څلور سوه زره افغان کډوال د تورخم او سپین بولدک له لارې بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي[11] او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ ادارې د ۲۰۲۵ز.کال د جنورۍ د ۱۴مې نېټې د راپور پر بنسټ د ۲۰۲۳ز. کال د سپټمبر میاشتې له ۱۵مې نېټې څخه تراوسه پورې اته لکه دیارلس زره او درې سوه (۸۱۳۳۰۰) افغان کډوال له پاکستان څخه خپل هېواد ته ستانه شوي دي.[12]




---

[8] UNHCR, "REPATRIATION OF AFGHAN REFUGEES FROM PAKISTAN Revised Supplementary Appeal", the UN Refugee Agency, (September-December 2016): 3. Access link: https://www.unhcr.org/pk/wp-content/uploads/sites/103/2018/05/UNHCR-Repatriation-of-Afghan-Refugees-from-Pakistan-Revised-SB-Sept-Dec.-2016-28OCT16.pdf

[9] Abid Hussain, "Why is Pakistan planning to deport undocumented Afghans?", Aljazeera, (6 OCT 2023). Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/10/6/why-is-pakistan-deporting-undocumented-afghans

[10] Abid Hussain, "Why am I being sent back?' Hurt, anger for Afghans pushed out by Pakistan", Aljazeera, (3 Nov 2023). Access link: https://www.aljazeera.com/features/2023/11/3/why-am-i-being-sent-back-hurt-anger-for-afghans-pushed-out-by-pakistan

[11] MUNIR AHMED, "More than 400,000 Afghans have returned home from Pakistan following crackdown on migrants", The Associated Press, (20 NOV 2023). Access link: https://apnews.com/article/pakistan-afghanistan-migrat-crackdown-df89dc612fcf8ee9aa138414ff2034ec

[12] UNHCR, "Afghanistan Situation", Operational Data Portal, (2025). Access link: https://data.unhcr.org/en/situations/afghanistan

**Source:**UNHCR, "Afghanistan Situation", Operational Data Portal, (2025). Access link: https://data.unhcr.org/en/situations/afghanistan

## په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت

په عمومي ډول په پاکستان کې افغان کډوال په څلورو برخو ویشل کېږي: یو، هغه افغان کډوال دي چې ( Proof of Registration(POR) کارډ لري، دوی پاکستان حکومت د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري په مالي او تخنیکي همکارۍ ثبت کړي او په پاکستان کې قانوني حیثیت لري او له ځینې حقوقو څخه هم برخمن دي. دویم، هغه افغان کډوال دي چې ثبت شوي نه دي او هیڅ ډول اسناد نه لري، دوی پاکستان حکومت ناقانونه اعلان کړي او په دغه هېواد کې هیڅ ډول حقوق نه ورکول کېږي، له دوی سره ډېر بد چلند کېږي او له سختو ننګونو سره مخامخ دي. دریيم، هغه افغانان دي چې د وېزو پر مټ پاکستان ته تللي دي، دوی تر معلومې نېټې پورې په پاکستان کې د اوسېدو حق لري او کله چې یې ویزه پای ته ورسېږي له هغې وروسته دوی هم ناقانونه ګڼل کېږي. څلورم، هغه افغان کډوال دي چې (Afghan Resident Card(ACC)) لري، پاکستان حکومت په ۲۰۱۷ز. کال کې د ځینو هغو افغان کډوالو د ثبت پروسه پیل کړه چې د POR کارډ اخیستلو څخه پاتې شوي وو او دې ډول کډوالو ته یې ACC کارډونه ورکړل تر څو له ځینو محدودو حقوقو څخه برخمن شي او دا کارډونه تر هغې پورې دي/وو چې افغان حکومت دوی ته پاسپورټونه ورکړي او یا هم بېرته خپل هېواد ته ستانه شي.[13]

په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت په دوه برخو کې مطالعه کوو، لومړی، په پاکستان کې د افغان کډوالو حقوقي وضعیت او دویم د همدغه حقوقي وضعیت په رڼا کې د هغوی عملي وضعیت دی.

په پاکستان کې د افغان کډوالو حقوقي وضعیت دوه مفهومه لري، یو، په دغه هېواد کې د افغان کډوالو د اوسېدو قانوني مبنی څېړل دي چې د افاقي حقوقو پورې اړه لري او دویم یې عندي او بشري حقوقي وضعیت دی، چې پر دواړو برخو دلته بحث کوو.

**۱- قانوني مبنی:** په یو هېواد کې د کډوالو د اوسېدو لپاره درې ډوله قانوني جوازونه یا قانوني مبنی رامنځته کېدلای شي، چې یو یې بین المللي حقوق دي، دویم د کوربه هېواد قوانین دي او دریيم د کوربه او میلمه هېواد او یا هم د کوربه هېواد او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري ترمنځ هوکړه لیکونه دي، چې په پاکستان کې د افغان کډوالو په اړه دا درې واړه حقوقي اړخونه څېړو.

**الف- بین المللي حقوق:** په بین المللي حقوقو کې د کډوالۍ په اړه تر ټولو مهم سند د کډوالو د وضعیت په اړه د ۱۹۵۱ز. کال کنوانسیون دی چې په دې کې د کډوالو ټول حقوق، لکه: په دریيمه ماده کې د تبعیض د منعې حق، په څلورمه ماده کې د مذهبي ازادۍ حق، په دیارلسمه ماده کې د ملکیت حق، په پنځلسمه ماده کې د ټولنو د جوړولو حق، په شپاړسمه ماده کې محاکمو ته د لاسرسي حق، په اوولسمه ماده کې د کار حق، په دوه ویشتمه ماده کې د تعلیم حق، په شپږ ویشتمه ماده کې د ګرځېدو او راګرځېدو یا د سفر د ازادۍ حق، په دېرشمه ماده کې د شتمنیو د انتقال حق، په درې دېرشمه ماده کې د اجباري

[13] Afghan Displacement Solutions Platform, On the margins: Afghans in Pakistan, December 2018, PP. 11-14, Access link: http://www.acbar.org/upload/1562673003902.pdf

اخراج د منعې حق[14] او داسې نور حقونه یاد شوي دي. همدارنګه د شکنجې د منعې په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسیون دریېمه ماده هم د کډوالو اجباري اخراج منعه کوي.

د دې ترڅنګ د بشر حقوقو د نړیوالې اعلامیې څوارلسمه ماده خلکو ته حق ورکوي تر څو د خپل امنیت د خوندیتوب په موخه نورو دولتونو ته کډوال شي او یا هم د یو بل دولت د تابعیت اخیستلو ته اقدام وکړي.[15] د دې ترڅنګ د ملګرو ملتونو د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق[16]، د کلتوري او اقتصادي حقوقو نړیوالو میثاق[17] او داسې نور نړیوال سندونه د کډوالو پر حقوقو تاکید کوي.

**ب- د پاکستان داخلي قوانین:** د کډوالو په اړه پاکستان کوم ځانګړی قانون نه لري، یوازې د ۱۹۴٦ز.کال د بهرنیانو قانون لري چې په هغې کې یې هم د کډوالو ځانګړی نوم ندی اخیستی، بلکې د پاکستان په خاوره کې هغه اوسېدونکي چې د دغه هېواد تابعیت ونلري د بهرنیانو په نوم یاد کړي دي چې په دې کې کډوال هم شاملېږي. البته یوه یادونه باید وکړو چې پاکستان د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه او ځینې نور نړیوالو اسناد مني او د هغې په رڼا کې مکلف دی چې د کډوالو حقوقو ته احترام وکړي.[18]

**ج- د پاکستان، افغانستان او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري ترمنځ هوکړه لیکونه:** د افغان کډوالو په اړه پاکستان، افغانستان او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري نږدې اته هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي، چې اکثره یې په افتخاري ډول خپل هېواد ته د افغان کډوالو د ستنېدو د تنظیمولو په اړه دي چې له دې ښکاره معلومېږي چې په پاکستان کې د افغان کډوالو اوسېدل قانوني دي او په اجباري ډول د هغوی اخراج ناقانونه دی.

| موخه | د هوکړه لیک نوم | شماره |
|---|---|---|
| دا هوکړه لیک د پاکستان او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري ترمنځ په افتخاري ډول خپل هېواد ته د افغان کډوالو د ستنېدو په اړه دی. | Agreement Between the Islamic Republic of Pakistan and the Office of the United Nations High Commissioner for Refugees on the Voluntary Return of Refugees (1988). | ۱ |
| دا درې اړخیز هوکړه لیک د افغانستان، پاکستان او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري ترمنځ خپل هېواد ته د افغان کډوالو د بېرته ستنېدو په اړه | Agreement Between the Government of the Islamic State of Afghanistan, the Government of the Islamic Republic of Pakistan and the | ۲ |

[14] Convention Relating to the Status of Refugees, United Nations, 1951, Access link: https://www.un.org/en/genocideprevention/documents/atrocity-crimes/Doc.23_convention%20refugees.pdf

[15] Universal Declaration of Human Right of 1948, Article 14(1). Access link: https://www.un.org/sites/un2.un.org/files/2021/03/udhr.pdf

[16] International Covenant on Civil and Political Rights of 1966, Access link: https://www.ohchr.org/sites/default/files/ccpr.pdf

[17] International Covenant on Economic, Social and Cultural Rights of 1966, Access link: https://www.ohchr.org/sites/default/files/cescr.pdf

[18] Raja Irfan Azam, Analysis of Pakistan's Policy towards Afghan Refugees: A Legal Perspective, Riga Graduate School of Law, Bachelors Thesis, 2020, P. 27. Access link: https://dspace.lu.lv/dspace/bitstream/handle/7/56528/Azam_RajaIrfan.pdf?sequence=1

| | | |
|---|---|---|
| دی. | United Nations High Commissioner for Refugees for the Repatriation of Afghan Refugees in Pakistan (1993). | |
| دا هوکړه لیک په ۱۹۹۳ز. کال کې د پاکستان او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري ترمنځ د افغان کډوالو د ستنېدو په برخه کې د همکارۍ په اړه دی. | Agreement Between the Government of the Islamic State of Afghanistan, the Government of the Islamic Republic of Pakistan and the United Nations High Commissioner for Refugees for the Repatriation of Afghan Refugees in Pakistan (1993). | ۳ |
| په ۲۰۰۱ز. کال کې پاکستان په ټولیز ډول د افغان کډوالو په رسمیت پېژندلو څخه انکار وکړ، له هغې وروسته د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري او پاکستان ترمنځ په همدغه کال کې پورتنۍ هوکړه لاسلیک شوه ترڅو په پاکستان کې د افغان کډوالو په درېیو سترو کمپونو کې یوه ارزیابي وکړي او هغه افغان کډوال مشخص کړي چې د نړیوال خوندیتوب وړ دي ترڅو د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري په تخنیکي او مالي همکارۍ هغوی ته خوندیتوب ورکړل شي. | Agreed Understandings for the Screening Process for Afghans in Jalozai makeshift camp, Nasirbagh camp and Shamshatoo camp to Determine Which Persons are in Need of International Protection and which are Not (2001). | ۴ |
| کله چې په افغانستان کې جمهوري نظام رامنځته شو او حامد کرزی لومړی د لنډمهالۍ دورې او بیا د انتقالي دورې مشر شو، نو په دغه دوره کې د افغانستان انتقالي حکومت، پاکستان او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري ترمنځ په ۲۰۰۳ز.کال کې یو هوکړه لیک لاسلیک شو، تر څو په افغانستان کې د امنیت او نوي حکومت په راتګ سره خپل هېواد ته د افغان کډوالو د ستنېدو لپاره فرصت برابر کړي. | Agreement Between the Government of Islamic Republic of Pakistan, the Transitional Islamic State of Afghanistan and the United Nations High Commissioner for Refugees Governing the Repatriation of Afghan Citizens Living in Pakistan (2003). | ۵ |
| دا هوکړه لیک د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري او پاکستان ترمنځ په ۲۰۰۴ز.کال کې لاسلیک شو، ترڅو پاکستان د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري په مالي ملاتړ په پاکستان کې د افغان کډوالو د ثبتولو او احصایوي معلوماتو راټولولو لړۍ پیل کړي او دا لومړی ځل و چې په پاکستان کې د افغان | Memorandum of Understanding Between the Government of the Islamic Republic of Pakistan and the Office of the United Nations High Commissioner for Refugees on the Census and Registration of Afghan Citizens living in Pakistan (2004). | ٦ |

| | | |
|---|---|---|
| | | کډوالو رسمي سرشمېرنه ترسره شوه. |
| ۷ | Memorandum of Understanding Between the Government of Islamic Republic of Pakistan and the Office of the United Nations High Commissioner for Refugees on the Registration of Afghan Citizens Living in Pakistan (2006). | دا هوکړه لیک په ۲۰۰٦ز.کال کې د پاکستان او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري ترمنځ لاسلیک شو چې موخه يې په پاکستان کې د افغان کډوالو ثبتول او هغوی ته د کارتونو ویشل وو. |
| ۸ | Agreement Between the Government of the Islamic Republic of Pakistan, the Government of the Islamic Republic of Afghanistan, and the United Nations High Commissioner for Refugees Governing the Repatriation of Afghan Citizens Living in Pakistan (2007). | دا هوکړه لیک په ۲۰۰۷ز.کال کې لاسلیک شو او موخه يې خپل هېواد ته د افغان کډوالو د ستنېدو تنظیمول وو. |

**Source:** MARJOLEINE ZIECK, "The Legal Status of Afghan Refugees in Pakistan, a Story of Eight Agreements and Two Suppressed Premises", Oxford University Press, 2008, PP. 256-264. Access link: https://academic.oup.com/ijrl/article-abstract/20/2/253/1502834

**۲- بشري حقوق:** پورته مو د بین المللي حقوقو په رڼا کې د کډوالو له بشري حقوقو څخه هم یادونه وکړه چې هغه په خپل ذات کې د مصؤنیت په موخه د کډوالۍ حق دی، د تبعیض د منعې حق دی، د ملکیت او تعلیم حق دی، د کار حق دی، د سفر د ازادۍ حق دی، د اجباري اخراج د منعې حق دی، د مذهبي ازادۍ حق دی، محاکمو ته د لاسرسۍ او داسې نور حقوق دي. دلته اوس په دې بحث کوو چې ایا پاکستان افغان کډوالو ته دغه حقوق ورکړي او که نه؟ او په دغه هېواد کې د کډوالو عملي وضعیت څنګه دی؟

د شلمې پېړۍ په اتیایمو کالونو کې په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت ډېر ښه و، د افغان کډوالو په اړه پاکستان د خلاصو دروازو (Open Door) پالیسي لرله او افغان کډوالو سره يې ډېر ښه وضعیت کاوه. د دې ښه وضعیت لامل دا و چې کله شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ او میلیونونه افغانان پاکستان ته کډوال شول، نو متحده ایالاتو پاکستان ته مرستې پیل کړې تر څو د همدغو افغان کډوالو له منځ څخه مجاهدین وروزي او په افغانستان کې د شوروي اتحاد خلاف د ازادۍ مبارزه وکړي، دغو مرستو څخه پاکستان د خپل اقتصاد د رغونې په برخه کې هم ګټه اخیسته، نو ځکه کډوالو ته خوشحاله وو او له هغوی سره يې ښه وضعیت کاوه، خو کله چې په ۱۹۹۱ز.کال په سپتمبر میاشت کې امریکا متحده ایالات او شوروي اتحاد دې هوکړې ته ورسېدل چې دواړه لوري به نور افغانستان ته نظامي وسایل نه لېږي او له افغانستان څخه به خپلې پښې وباسي. له دې هوکړې وروسته امریکا متحده ایالاتو له افغانستان سره خپلې نظامي اړیکې پرې کړې او امریکا متحده ایالاتو اعلان وکړ چې: افغانستان نور د امریکا متحده ایالاتو د رادار په ښیښه کې نشته.[19] له افغانستان څخه د شوروي اتحاد وتل او د

[19] Dennis Kux, the United States and Pakistan 1947-2000 Disenchanted Allies, 2001, THE JOHNS HOPKINS UNIVERSITY PRESS, P. 317.

افغانستان په اړه د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد دا ډول هوکړه د دې لامل شوه چې امریکا متحده ایالات خپلې ټولې هغه مرستې چې د پاکستان په لاس یې په افغانستان کې ویشلې، بندې کړې او کله چې پر پاکستان امریکایي مرستې بندې شوې، نو پاکستان هم په نویمو کالونو کې د افغان کډوالو په اړه خپله پالیسي بدله کړه او د افغان کډوالو په بېرته ستنولو یې غور پیل کړ.

له افغان کډوالو سره په حکومتي کچه د وضعیت د خرابوالي یو لامل په ۱۹۹٦ز.کال کې د شېګري راپور خپرېدل وو، دغه راپور افضل شېګري لیکلی و چې پر بنسټ یې په پاکستان کې د افغان کډوالو اوسېدونه یې ناقانونه بللې وه او د افغان کډوالو په اړه یې لاندې موضوعات یاد کړي وو:

(۱)- افغان کډوال له کمپونو راوتلي او د پاکستان په بېلابېلو ښارونو کې یې استوګنه اختیار کړې چې دا کړنه د پاکستان امنیت او ثبات ته ګواښ پېښولی شي؛

(۲)- افغان کډوالو په پاکستان کې سوداګري پیل کړې او پر دندو ګمارل شوي دي چې له امله یې د پاکستاني سوداګرو پر سوداګرۍ او کاري فرصتونو منفي اغېزه کړې ده؛

(۳)- افغان کډوالو د بېلابېلو جرمونو په ترسره کولو پیل کړی چې د ټولنې نظم یې له ننګونو سره مخامخ کړی دی؛

(۴)- افغان کډوال د وسلو او نورو مهماتو په پلور او پېر کې لاس لري چې له امله یې په بازار کې وسلې په اسانۍ سره پیداکېږي او د پاکستانۍ ټولنې نظم او امنیت ورسره خراب شوی دی؛

(۵)- افغان کډوال په ناقانونه توګه وېزې او پاسپورتونه ترلاسه کوي چې له لارې یې په ناقانونه توګه دریمګړي هېواد ته کډوال کېږي چې دا د پاکستان حیثیت ته صدمه رسوي.[20]

د دې راپور له خپرېدو وروسته پاکستان حکومت د افغان کډوالو په ثبتولو پیل وکړ او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري سره په همغږۍ یې د افغان کډوالو د ستنولو پروسه هم تنظیم کړه چې له امله یې ډېر افغانان متضرره شو او په نامناسب وضعیت کې اخته شول.

په ۲۰۰٦ز.کال د فبرورۍ په میاشت کې پاکستان د دربیو افغان کمپونو د ترلو پرېکړه وکړه چې یو د کچه ګهړي کمپ و او دوه نور یې په بلوچستان کې وو، همدارنګه په ۲۰۰۸ز.کال کې یې د جلوزو کمپ ترلو پرېکړه هم وکړه[21] چې له امله یې کډوال سخت متضرر شول. په دې کمپونو کې افغان کډوالو کورونه اخیستي وو، سوداګرۍ یې پیل کړې وې چې په ځانګړې ډول د قالینو اوبدنه یې د یادونې وړ ده، په زرګونو کډوال په تعلیمي سیستم کې په زده کړو بوخت ول او ګڼ شمېر نور کډوال د کمپونو د ترلو له امله له بېلابېلو مادي زیانونو سره مخامخ شول.

کرېستین په خپل راپور کې لیکي چې، پاکستان د افغان کډالو په اړه په بشپړ ډول بین المللي حقوق نه دي عملي کړي او په ناقانونه ډول یې د افغان کډوالو پر کمپونو او کورونو چاپې وهلي، هغوی یې له ځان سره وړي او ان تر دې چې ځینې وخت یې له دې امله د هغوی د دندو مخنیوی کړی چې دوی افغان کډوال دي.[22]

[20] Shigri, A.A., Report on illegal immigrants and Afghan refugees in Pakistan Government of Pakistan (GOP). 1996. Access link: https://easo.europa.eu/file/30904/download?token=17vIUnYM

[21] Golam Rasol Hasas, "Jalozai camp closed, returnees face difficulties at home", The New Humanitarian, (2008). Access link: https://www.thenewhumanitarian.org/report/78506/afghanistan-jalozai-camp-closed-returnees-face-difficulties-home

[22] Roehrs, Christine. "The Refugee Dilemma: Afghans in Pakistan between expulsion and failing aid

په پاکستان کې د افغان کډوالو د وضعیت په اړه په اروپا کې د تابعیت د ملاتړ دفتر په خپل راپور کې لیکي: پاکستاني پولیس او پوځیان افغان کډوال په زوره مجبوروي چې د داسې جرمونو مسؤلیت پر غاړه واخلي چې هغوی نه دي ترسره کړي. همدارنګه هغه افغان کډوال چې قانوني اسناد هم لري د پولیسو له خوا ترې په بېلابېلو بهانو رشوت اخیستل کېږي. په دې راپور کې راغلي چې په ځینو ښارونو کې افغان کډوال په دولتي روغتونونو کې له دې امله نه پرېښودل کېږي چې دا روغتونونه د پاکستاني وګړو په مالیو چلیږي او یوازې پاکستاني وګړي ترې د ګټې اخیستنې حق لري. همدارنګه پر افغان کډوالو باندې په ځینو نورو برخو کې هم محدودیتونه وضع شوي دي، لکه: د بانک اکاونټ پرانېستلو، په هوټلونو کې د اطاقونو نیولو او د ځمکې د پېرلو په برخه کې.[23]

په ۲۰۱۵ز.کال کې (Human Rights Watch) یو راپور خپور کړ چې سرلیک یې و، تاسو دلته څه کوئ؟ ( What are you doing here?) په دې راپور کې راغلي دي: افغان کډوال د پاکستاني پولیسو له خوا په بېلابېلو بهانو نیول کېږي او د بند پرمهال پر دوی زور زیاتی کېږي او رشوت ترې اخیستل کېږي. په دغه راپور کې له هغو افغان کډوالو سره مرکې  شوي دي چې هغوی بېرته افغانستان ته ستانه شوي په هغوی کې اکثرو ویلي چې د پاکستاني پولیسو د ظلم له لاسه بېرته راستانه شوي دي. په دغه راپور کې دا هم ویل شوي چې د افغان کډوالو د ملکیت حق هم نقض شوی، په دې راپور کې د زبیر، شهزاد او خان بېلګې راوړل شوي دي چې هغوی عملاً په پاکستان کې د ملکیت له پېرلو څخه منع شوي دي.[24]

په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته په پاکستان کې د افغان کډوالو سره د پاکستاني حکومت له لوري بدچلند کېږي او په بېلابېلو پېښو کې یې په ښکېلېدو تورنوي او بندیانوي یې. د ۲۰۲۳ز. کال کې په سوړ ژمي کې د افغان کډوالو اجباري اخراج هم د دغه ډول بدچلند بېلګه ده.

دلته اوس په لنډ ډول په پاکستان کې د افغان کډوالو پر اقتصادي او ټولنیز وضعیت بحث کوو:

**الف- تعلیمي وضعیت**

د (The News International) د ۲۰۲۲ز.کال د راپور پر بنسټ په پاکستان کې د افغان کډوالو د دویم او دریم نسل په لسګونو زره ځوانان تعلیم ته له دې امله لاسرسی نه لري چې د پاکستان د تابعیت کارډ نه لري. په دغه راپور کې د یو افغان پلار خبره رانقل شوې چې وایي: زما دوه بچیان چې دلته پاکستان کې زېږېدلي دي، ډېره هڅه مې وکړه چې هغوی په یو دولتي ښوونځي کې داخل کړم، خو هر ښوونځي ته چې ورغلی یم زما د الکترونیکي شناختي کارډ غوښتنه یې کړې او له هغې پرته زما بچیان نه داخلوي.[25]

---

schemes." Afghanistan Analysts Network 9 (2015). Access link:
https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/migration/the-refugee-dilemma-afghans-in-pakistanbetween-expulsion-and-failing-aid-schemes/

[23] Report by European asylum support office "Pakistan situation of afghan refugees", (2022), PP. 84-88. Access link: https://euaa.europa.eu/publications/pakistan-situation-afghan-refugees and Afghan Displacement Solutions Platform, On the margins: Afghans in Pakistan, December 2018, P. 5, Access link:
http://www.acbar.org/upload/1562673003902.pdf

[24] Raja Irfan Azam, Analysis of Pakistan's Policy towards Afghan Refugees: A Legal Perspective, Op. Cit., PP. 23-24.

[25] Zia Ur Rehman, "Statelessness keeps young Afghan refugees away from education", News International (The), (13 March 2022), Access link:
https://www.thenews.com.pk/print/940987-statelessness-keeps-young-afghan-refugees-away-from-education

په پاکستان کې اکثره افغان کډوال یا په افغاني خصوصي ښوونځيو کې او یا هم د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري له لوري جوړ شويو ښوونځيو کې زده کړې کوي. د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري د ۲۰۲۰-۲۰۲۲ز.کالونو په تعليمي ستراتيژۍ کې راغلي چې په تېرو څلوېښتو کالونو کې د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري افغان کډوالو ته په پاکستان کې ۱۴۶ ښوونځي جوړ کړي دي چې ۱۰۳ يې په خيبرپختونخواه کې، ۳۵ يې په بلوچستان کې او ۸ يې په پنجاب کې دي، چې له لارې يې ۵۶۰۰۰ افغان کوچنيان تعليمي خدمتونه ترلاسه کوي.[26]

په ۲۰۱۸ز.کال د جنورۍ په مياشت کې پاکستانۍ ډان ورځپاڼې راپور ورکړ چې د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري په ښوونځيو کې افغانی کريکولم تدريسيږي او د پاکستان محلي حکومت په دې انتقاد کړی چې دا کريکولم پاکستان ضد دی، هماغه و چې د ملګرو ملتونو کډوالۍ اداري په ۲۰۱۸ز.کال اکتوبر مياشت کې اعلاميه خپره کړه چې دوی به له دې وروسته په ابتدايه او متوسطه ښوونځيو کې پاکستانی کريکولم تدريسوي،[27] چې دې پرېکړې ډېر افغان کډوال له ننګونو سره مخامخ کړل او ځينو کورنيو خپل بچيان له ښوونځيو راوويستل.[28]

په تعليمي برخه کې بله لويه ستونزه دا ده چې هغه افغان کډوال چې د افغانستان پوهنې وزارت سره په ثبت شويو ښوونځيو کې زده کړې وکړي، د هغوی اسناد د پاکستان حکومت له خوا نه منل کېږي، چې له امله يې هغوی له نورو زده کړو محروميږي. د دې ترڅنګ بله ستونزه دا ده چې د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري په جوړو شويو ښوونځيو کې يوازې د (POR) کارډ لرونکي داخلېږي، هغه افغان کډوال چې (ACC) کارډ لري او يا هم هيڅ کارډ نه لري هغوی په دغو ښوونځيو کې هم زده کړې نشي کولای[29] او همداسې بې سواده پاتې کېږي.

**ب- کاري وضعيت**

د اروپايي تابعيت د ملاتړ دفتر د راپور پر بنسټ افغان کډوال په پاکستان کې د کار رسمي مارکېټ ته د لاسرسي حق نه لري.[30] د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري د راپور پر بنسټ اکثره افغان کډوال د (POR) کارډ لرونکو په ګډون، شخصي کاروبارونه کوي او په دولتي سکټور کې د پاکستاني شناختي کارډ د نه درلودلو له امله کار نشي کولای. په پاکستان کې اکثره افغان کډوال د قالينو پر اوبدلو، د تازه ميوې پر پلورلو، د شهدو او مستريتوب په کاروبارونو بوخت دي.[31] لنډه دا چې په پاکستان کې افغان کډوال مزدوري کوي او رسمي کاروبارونه او دندې نشي ترلاسه کولای.

---

[26] UNHCR, “Pakistan - Refugee Education Strategy (2020-2022)”, (10 February 2020), P. 3. Access link: https://data2.unhcr.org/en/documents/download/73890

[27] UNHCR, Education: Afghan refugees studying in refugee villages, (15 October 2018), Access link: https://unhcrpk.org/education-afghan-refugees-studying-in-refugee-villages/

[28] Mielke, K. et al., “Figurations of Displacement in and beyond Pakistan”, TRAFIG working paper no. 7, (August 2021), P. 20, Access link: https://trafig.eu/output/working-papers/figurations-of-displacement-in-and-beyond-pakistan/D054-TWP-Figurations-of%20Displacement-Pakistan-Mielke-etal-2021-v02p-2021-11-05.pdf

[29] Afghan Displacement Solutions Platform, On the margins: Afghans in Pakistan, Op. Cit., P. 24.

[30] Report by European asylum support office “Pakistan situation of afghan refugees”, Op. Cit., P. 77.

[31] CODE Pakistan, “Afghan refugees in Pakistan-The Road Ahead”, (November 2019), P. 42, Access link: https://codepak.org/wp-content/uploads/2022/01/Afghan-Refugees-The-Road-Ahead.pdf

**ج- روغتیايي خدماتو ته لاسرسی**

د (Afghan Displacement Solutions Platform) د راپور پر بنسټ ټول افغان کډوال (که هغه د POR کارډ لرونکي وي، که د ACC کارډ او که بې اسنادو وي) روغتیايي خدماتو ته د لاسرسي حق لري.[32] همدارنګه د یوې څېړنې پر بنسټ چې د ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ز.کالونو ترمنځ له ۲۹۹ افغان کډوالو څخه ترسره شوې، په هغې کې ۹۱ سلنه افغان کډوال وایي چې دوی روغتیايي خدماتو ته لاسرسی لري او په دې برخه کې ستونزه نه لري.[33]

البته په دې برخه کې ځینې څېړنې ښايي چې د افغان کډوالو د ناروغانو د ډېرښت له امله په دولتي روغتونونو کې پاکستاني وګړي د نمبر ناوخته رسېدو، د خدماتو د کیفیت خرابوالي، د ډاکټرانو غیرحاضرۍ او ځینو نورو ننګونو سره مخامخ شوي دي چې له امله یې دولتي روغتونونه ځینې وخت افغان کډوال شخصي روغتونونو ته راجع کوي او په دولتي روغتونونو کې یې درملنه نه کوي.[34]

**د- په کرایه کور نیول او د ملکیت د ترلاسه کولو حق**

افغان کډوال د (POR) کارډ لرونکو په ګډون په پاکستان کې په خپل نوم ځمکه یا بل هر ملکیت نشي پېرلی. د یوې څېړنې پر بنسټ چې د ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ز.کالونو ترمنځ له ۲۹۹ افغان کډوالو څخه ترسره شوې، په هغې کې ۳ سلنه افغان کډوال وایي چې دوی په کوم کور کې اوسېږي دا د دوی ملکیت دی، خو دا یې په خپل نوم نه دي اخیستي بلکې په دې برخه کې دوی له خپلو پاکستاني ملګرو، ګاونډیانو او یا هم د ځمکې د مالیکینو له پاکستاني شناختي کارډونو څخه ګټه اخیستې ده.[35]

همدارنګه یوازې هغه افغان کډوال چې (POR) کارډ ولري کولای شي کور په کرایه ونیسي او هغه هم وروسته له ډېر اوږد او سخت پروسیجر څخه. نورحبیب په نوم یو افغان کډوال چې له ۱۹۷۹ز.کال څخه په پاکستان کې اوسېږي وایي: که غواړې چې په پاکستان کې په کرایه کور ونیسې، نو لومړی باید (POR) کارډ ولرې، له هغې وورسته به د رهنمایي معاملاتو له یو استازي سره اړیکه نیسې چې هغه یو فورم درکوي او هغه به ډکوې، له هغې وروسته به دوه پاکستاني شاهدان یا ضانت کوونکي پیداکوې، له هغې وروسته به د پولیسو پوستې ته ځې او د هغوی پوښتنې به ځوابوې او کله چې له پوښتنو بریالی راووتې، نو بیا به د محکمې اجازه او مهر ترلاسه کوې او له هغې وروسته به کور په کرایه درکول کېږي. د دې ترځنګ د پاکستاني وګړو په پرتله له افغان کډوالو څخه لوړه کرایه اخیستل کېږي[36] چې دا خپله له افغان کډوالو سره تبعیضي چلند په ګوته کوي.

**هـ- بانکي او تخنیکي خدماتو ته لاسرسی**

له ۲۰۱۹ز.کال څخه مخکې افغان کډوالو بانکي خدماتو ته لاسرسی نه درلود، خو کله چې په ۲۰۱۹ز.کال په فبرورۍ میاشت کې لومړي وزیر عمران خان اعلان وکړ چې ثبت شوي افغان کډوال کولای شي بانکي اکاونټونه ولري او بانکي خدماتو ته لاسرسی پیداکړي له هغې وروسته د پاکستان دولتي بانک د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل چې یوازې د (POR) کارډ

[32] Afghan Displacement Solutions Platform, On the margins: Afghans in Pakistan, Op. Cit., P. 26.

[33] Mielke, K. et al., “Figurations of Displacement in and beyond Pakistan”, Op. Cit., PP. 4-5-19.

[34] Report by European asylum support office “Pakistan situation of afghan refugees”, Op. Cit., P. 85.

[35] Mielke, K. et al., “Figurations of Displacement in and beyond Pakistan”, Op. Cit., P. 32.

[36] Afghan Displacement Solutions Platform, On the margins: Afghans in Pakistan, Op. Cit., P. 25.

لرونکي افغان کډوال کولای شي بانکي اکاونټونه پرانېزي او له بانکي خدماتو ګټه واخلي. د پاکستاني حکومت له دې پالیسۍ وروسته تر ۲۰۲۱ز.کال اګست میاشتې پورې ۵۲۸۰ افغان کډوالو په بانک کې خپل اکاونټونه پرانېستل.[37] سره له دې چې (POR) کارډ لرونکي افغان کډوالو ته د بانکي حسابونو د پرانېستلو اجازه ورکړل شوه، خو بیا هم ځینو بانکونو د دې پالیسۍ خلاف افغان کډوالو ته بانکي اکاونټونه نه پرانېستل. د دې ترڅنګ افغان کډوال د بانکي اکاونټونو په برخه کې له دوه سترو ننګونو سره مخامخ وو، یو دا چې د (POR) کارډ د تاریخ په پای ته رسېدو سره د دوی د بانکي اکاونټونو تاریخ هم پای ته رسېده او دویم دا چې په دې اړه هیڅ داسې کوم میکانیزم موجود نه دی چې له لارې یې د افغان کډوالو کورنۍ وکولای شي د یو شخص له مړینې وروسته د هغه بانکي اکاونټ ته لاسرسی پیداکړي.[38]

په تخنیکي برخه کې یوازې د (POR) کارډ لرونکي افغان کډوال کولای شي چې په خپل نوم سیم کارت واخلي، د (ACC) کارډ لرونکي او بې اسنادو افغان کډوال نشي کولای چې سیم کارتونه ترلاسه کړي.[39]

**و- حقوقي مرستو ته لاسرسی**

افغان کډوال کولای شي چې په پاکستان کې محاکمو ته لاسرسی ولري او د عادلانه محکمې غوښتنه وکړي.[40] په محکمه کې د خپل حق غوښتلو په موخه افغان کډوال حقوقي مرستو ته اړتیا لري، یعنې هغوی باید یو وکیل ولري او د هغه له لارې خپله دعوه مخ ته یوسي چې په دې برخه کې بېلابېلي اداري له هغو افغان کډوالو سره د وکیل نیونې او محاکمو ته د لاسرسي په برخه کې مرسته کوي چې (POR) کارډ ولري، دغه اداري په لاندې ډول دي:

1- EHSAR Foundation؛

2- Paidar Development Organization (PDO)؛

3- Strengthening Participatory Organization (SPO)؛

4- SHARP؛

5- The United Nations Development Programme (UNDP).[41]

لنډه دا چې له اتیایمو کالونو راوروسته په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت ښه نه دی پاتې شوی او د پاکستاني حکومت له لوري له بېلابېلو محدودیتونو سره مخامخ شوي دي.

**په پاکستان کې د افغان کډوالو پرمخ پرتې ننګونې**

په پاکستان کې اکثره افغان کډوال له بېلابېلو ننګونو سره مخامخ دي چې ځینې یې له پورتني بحث څخه هم معلومېدای شي، خو دلته به په ځینو نورو اړخونو او ننګونو بحث وکړو. د POR کارډ لرونکي افغان کډوال نسبتاً د نورو درېیو ډلو (پورته مو له څلور ډوله افغان کډوالو څخه یادونه کړې ده) په پرتله له کمو ننګونو سره مخامخ دي او هغه افغان کډوال چې هیڅ اسناد نه

[37] Report by European asylum support office “Pakistan situation of afghan refugees”, Op. Cit., PP. 88-89.

[38] Mielke, K. et al., “Figurations of Displacement in and beyond Pakistan”, Op. Cit., P. 36.

[39] Report by European asylum support office “Pakistan situation of Afghan refugees”, Op. Cit., P. 89.

[40] Ferreira, N. et al., “Governing protracted displacement”, TRAFIG working paper no. 3, (31 January 2020), P. 33, Access link: https://trafig.eu/output/working-papers/trafig-working-paper-no-3/D031-TWP-Governing-Protracted-Displacement-Ferreira-et-al-2020-v03p-WEB-2021-06-22.pdf.pdf

[41] Report by European asylum support office “Pakistan situation of Afghan refugees”, Op. Cit., P. 90.

لري، هغوی د نورو دریبو په پرتله له ډېرو او سختو ننګونو سره مخامخ دي، موږ دلته په عمومي ډول په پاکستان کې د افغان کډوالو پر ځینو ننګونو بحث کوو:

**۱- د دوه اړخیزو سیاسي اړیکو خرابوالی:** کله چې د پاکستان او افغانستان سیاسي اړیکې خرابې شوې، نو پاکستان حکومت د افغان کډوالو څخه د افغانستان په مقابل کې د سیاسي فشار په توګه ګټه اخیستې ده چې له امله یې افغان کډوال له ننګونو سره مخامخ شوي دي. پاکستان د افغانستان پر وړاندې د ستراتیژیکې ژورتیا پالیسۍ(Strategic Depth Policy) څخه ګټه اخلي. د دې پالیسۍ له لارې پاکستان غواړي پر افغانستان سیاسي کنټرول ولري، په دغه هېواد کې د هند د نفوذ مخنیوی وکړي، د ډیورنډ کرښه د رسمي کرښې په توګه پر افغان حکومت ومني او مرکزي اسیا ته په اسانۍ لاسرسی ولري.[42] په دې وروستیو کې د اسلامي امارت او پاکستان سیاسي اړیکې خرابې شوې دي او د دې یو لامل دا دی چې پاکستان خپلې ستراتیژیکې ژورتیا پالیسۍ کې بریالی شوی نه دی. همدارنګه اوسمهال د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان ترمنځ د خرابو سیاسي اړیکو بنسټ امنیتي اندېښنې او ننګونې دي. دا ننګونې دواړو اړخونو ته متوجې دي، پاکستان دعوه کوي چې د افغانستان اسلامي امارت د پاکستان د طالبانو له اسلامي تحریک څخه ملاتړ کوي، دوی ته په افغانستان کې پټنځایونه برابروي، په پاکستان کې د دوی له بریدونو ملاتړ کوي او تر دې چې افغان طالبان خپله د TTP په لیکو کې د پاکستان د حکومت خلاف جنګیږي. د افغانستان اسلامي امارت دعوه کوي چې پاکستان د افغانستان پر خاوره بریدونه کوي او د ډیورنډ پر کرښه امنیتي ستونزې جوړوي.[43] دا متقابل تورونه د دې لامل شوي چې د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې خرابې شي او دغو خرابو اړیکو پر افغان کډوالو منفي اغېزې کړي او هغوی یې د نیولو، زورولو او اجباري اخراج په څېر ننګونو سره مخامخ کړي دي.

**۲- اجباري اخراج:** افغان کډوال ځینې وخت د پاکستان حکومت له لوري د اجباري اخراج سره مخامخ شوي دي چې وروستۍ بېلګه یې په ۲۰۲۳ز. کال کې ترسره شوه، کله چې پاکستان حکومت اعلان وکړ چې د ۲۰۲۳ز.کال د اکتوبر میاشتې تر پای پورې به ناقانونه افغان کډوال خپل هېواد ته ستانه کړي.[44] اجباري اخراج هم د افغان کډوالو پر وړاندې یوه ننګونه ده، ځکه هغوی خپل هېواد ته ستنېدو ته اماده نه وي، په پاکستان کې یې خپل کارونه راټول کړي نه وي، د ځوانانو تعلیم او تحصیل نیمګړی پاتې وي او له اقتصادي او ټولنیز پلوه کېدلای شي افغان کډوال زیان وګوري.

**۳- امنیتي ننګونې:** پاکستان حکومت فکر کوي چې افغان کډوال د پاکستان د امنیت په خرابولو کې لاس لري. په دې اړه ډېرې څېړنې ترسره شوي او څېړونکو پاکستان حکومت ته همدا وړاندیز کړی چې افغان کډوال د امنیت د خرابېدو یو ستر لامل دی. پاکستان حکومت فکر کوي چې افغان کډوال په لاندې موضوعاتو کې دخیل دي:

الف- خپلو سیمو ته په ناقانونه او قاچاقي ډول د وسلو انتقال؛

[42] Brigadier MS Chowdhury, "Pakistan's Strategic Depth, Journal of United Service Institution of India", July- September 2009, Access link: https://www.usiofindia.org/publication-journal/pakistans-strategic-depth-2.html and Larry Hanauer and Peter Chalk, "India's and Pakistan's Strategies in Afghanistan: Implications for the United States and the Region", RAND Corporation, 2012, Access link: https://www.jstor.org/stable/10.7249/j.ctt1q6105.10

[43] Ido Gadi Raz, "Against all Expectations: Afghanistan-Pakistan Relations after the American Withdrawal", Electronic Journal of Social and Strategic Studies, 31 May, 2023, PP. 14-15, Access link: https://www.ejsss.net.in/uploads/172/14621_pdf.pdf

[44] Abid Hussain, "'Why am I being sent back?' Hurt, anger for Afghans pushed out by Pakistan", Op. Cit.

ب- په ځینو جهادي ډلو کې د افغان کډوالو غړیتوب؛

ج- ځینو تروریستي ډلو سره د معلوماتو شریکول؛

د- د افغان کډوالو ديني عالمان د پاکستان حکومت خلاف پروپګنډا او منفي تبلیغات کوي؛

هـ- همدارنګه افغان کډوال په خپلو سیمو کې په وژنو، غلا او نورو جرمونو کې هم دخیل دي.[45]

همدارنګه پاکستان هغه مهال پر افغان کډوالو نوره هم سختي راوسته کله چې په ۲۰۱۴ز.کال کې په پېښور کې پر پوځي ښوونځي برید وشو او پاکستاني حکومت ادعا وکړه چې په دې برید کې افغانان دخیل وو.

په ۲۰۱۷ز.کال کې امریکایي ډرون الوتکو په دې موخه په کرمه ایجنسۍ کې د افغان کډوالو پر کمپ برید وکړ چې هلته تروریستان اوسېږي. د جنوبي اسیا د ترهګرۍ بنسټ وايي: په ۲۰۲۳ز.کال کې په پاکستان کې ۴۱۸ بریدونه شوي، چې دا شمېره په ۲۰۲۲ز.کال کې ۳٦٥ وه[46] او الجزیرې بیا په ۲۰۲۳ز.کال کې په ټول پاکستان کې د بریدونو شمېر ٦٥۰ ښودلی دی.[47] د ۲۰۲۳ز.کال د جولای په میاشت کې په باجوړ کې پر یوه غونډه برید وشو چې له امله یې له ۵۴ څخه زیات کسان مړه شول. پاکستاني حکومت، په ځانګړې ډول د پوځ مشر جنرال عاصم منیر دعوه وکړه چې په دې پېښه کې افغاني تابعیت لرونکو لاس درلود. لنډه دا چې د دې پېښو وروسته پاکستان افغان کډوال له امنیتي پلوه له ننګونو سره مخامخ کړي دي. افغان کډوال نیسي، په کورونو یې چاپې وهي، په لارو او کوڅو کې یې زوروي، له یو ښار څخه بل ښار ته د تګ پرمهال یې تکلیفوي. د عفوې نړیوال سازمان د ۲۰۲٥ز.کال د جنورۍ د اتمې نېټې د راپور پر بنسټ یوازې په اتو ورځو کې یعنې د ۲۰۲٥ز.کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه تر اتمې نېټې پورې پاکستاني پولیسو ۸۰۰ افغان کډوالو نیولي او ځورولي يې شکنجه کړي دي.[48]

**۴- د کډوالو په اړه په پاکستان کې د ځانګړو قوانینو نه موجودیت:** پاکستان د کډوالو په اړه ځانګړی قانون نه لري، یوازې د ۱۹۴٦ز.کال د بهرنیانو قانون دی چې هغه هم د ټولو بهرنیانو په اړه دی او د کډوالو د منلو ځانګړې مادې په کې نشته. سره له دې چې په نړیواله کچه د کډوالو د حقوقو په اړه ګڼ اسناد موجود دي، خو ستونزه دا ده چې پاکستان د ځینو مهم سندونو غړی نه دی او هغه یې لاسلیک کړي نه دي، د بېلګې په ډول د کډوالو د وضعیت په اړه د ۱۹۵۱ز.کال کنوانسیون، چې پاکستان د دې کنوانسیون غړی نه دی. په حقوقو کې قاعده دا ده چې کله یو دولت یو بین المللي سند لاسلیکوي او هغه مني، نو خپل داخلي قوانین باید هغې سره برابر کړي، د پاکستان په قضیه کې ننګونه دا ده چې پاکستان د کډوالو په اړه هیڅ

[45] Jahan Ul Mulk, Basit Ali and Atta Ullah, "IMPACTS OF AFGHAN REFUGEES ON SECURITY SITUATION OF PAKISTAN", PAKISTAN JOURNAL OF SOCIETY, EDUCATION AND LANGUAGE, VOL- 6 (1) JANUARY 2020, PP. 43-45. Access link: https://pjsel.jehanf.com/index.php/journal/article/view/64

[46] Sneha Swaminathan, Explained | Why is Pakistan asking 1.7 million Afghan nationals to leave its territory?, WIONEWS, 2 NOV, 2023, Access link: https://www.wionews.com/south-asia/explained-why-is-pakistan-asking-17-million-afghan-nationals-to-leave-its-territory-654025.

[47] Abid Hussain, "Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan", Aljazeera, 18 Mar 2024, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2024/3/18/pakistan-launch-retaliatory-strikes-inside-afghanistan-raising-tensions?_gl=1*1nsvqv1*_ga*UFJCS2ZNTmk5NDYzZC1aNHhjbDlqcVZXckdDQTZETFBOSTRHX0hsZk9yUkluTG1pcFRRQnBfc2hfdGc4MlM0Rg..*_ga_XN9JB9Q0M1*MTcyODM5MjY3NS4xLjEuMTcyODM5MjY3Ni4wLjAuMA

[48] Amnesty International, "Pakistan: Renewed arrests, detention and harassment of Afghan refugees must stop", January 8, 2025, Access link: https://www.amnesty.org/en/latest/news/2025/01/pakistan-renewed-arrests-detention-and-harassment-of-afghan-refugees-must-stop/#:~:text=The%20Joint%20Action%20Committee%20for,No%20Objection%20Certificate%20(NOC).

قانون نه لري[49] او د دې ډول قانون نشتون افغان کډوال له ننګونو سره مخامخ کړي دي، څکه افغان کډوال نه پوهېږي چې د دوی حقوق او وجایب څه دي؟ ایا دوی د ملکیت، د ګرځېدو او راګرځېدو، د بانکي اکاونټ خلاصولو او نور حقوق لري او که نه؟ او کله چې یو څوک په داسې حالت کې قرار ولري دا په واقعي ډول یوه ستره ننګونه ده.

**۵- بېلابېلو اسنادو ته د لاسرسي په برخه کې ننګوني:** افغان کډوال په پاکستان کې د زېږېدنې سند، نکاح خط، د ډریورۍ لایسنس، د ښوونځي تصدیقپاڼې او پاکستاني تابیعت په ترلاسه کولو کې له ننګونو سره مخامخ دي، څکه پورتني ټول اسناد د یو شخص لپاره اړین دي او باید ترلاسه یې کړي، خو پاکستان حکومت دغه اسناد یوازې خپلو وګړو ته ورکوي او افغان کډوال دغو اسناد ته د لاسرسي له حق څخه محروم دي. همدارنګه افغان کډوال د ښوونځیو د  اسنادو له ننګونو سره هم مخامخ دي، له یوې خوا د افغاني ښوونځیو اسناد پاکستانی حکومت نه مني او له بلې خوا د پاکستاني ښوونځیو اسناد کله چې دوی افغانستان ته راستانه شي د پوهنې وزارت له لوري نه منل کېږي. د دې ترڅنګ افغان کډوال نشي کولای چې د ډریورۍ لایسنس ترلاسه کړي او بله مهمه موضوع دا چې پاکستان د تابعیت د ورکولو په برخه کې د خاورې له سیستم څخه پېروي کوي، یعنې هر هغه څوک چې په پاکستان کې پیداشي هغه ته به پاکستانی تابعیت ورکول کېږي، خو د افغان کډوالو په برخه کې دا اصول نه پلي کوي او هغوی ته پاکستانی تابیعت نه ورکوي.[50]

**حللارې**

په پاکستان کې د افغان کډوالو د وضعیت د ښه والي او یا هم د افغان کډوالو د ښه راتلونکي لپاره څینې حللارې وړاندېز کوو او دا حللارې درې اړخونو پورې اړه لري، د افغان حکومت رول، د پاکستان حکومت رول او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري رول.

**لومړی- د افغان حکومت رول**

د ټولو افغانانو عزت په خپل کور کې ښه خوندي کېږي او افغان کډوال باید خپل کور ته راستانه شي، خو افغان حکومت د دوی د راستنېدو په اړه مسؤل دی او ترڅو چې لاندې کړنې ترسره نه کړي، د افغان کډوالو راستنېدل ستونزمن دي:

۱- په واقعي معنی د اسلامي امارت د مشر د عفوې د فرمان تطبیقول، یعنې د تېر نظام هغه چارواکي او نظامیان چې د امنیتي او سیاسي ملحوظاتو له امله پاکستان ته کډوال شوي هغوی ته باید ضمانت ورکړل شي چې عفوه ورته شوې او باید خپل هېواد ته ډاډه راستانه شي.

۲- د نجونو د تعلیم او تحصیل پرمخ د ښوونځیو او پوهنتونونو د دروازو پرانېستل، په دې وروستیو کې اکثره افغانان پاکستان ته په دې موخه هم کډوال شوي چې په افغانستان کې د دوی د نجونو پرمخ د تعلیم او تحصیل دروازې تړل شوي او همدارنګه پخواني کډوال هم له همدې امله بېرته راستنېدو ته زړه نه ښه کوي چې په افغانستان کې د دوی نجونې تعلیم او تحصیل ته نه پرېښودل کېږي، نو افغان حکومت باید د نجونو د تعلیم قضیه حل کړي تر څو د افغان کډوالو د نه راستنېدو دا لامل له منځه لاړ شي.

۳- افغان حکومت باید راستنېدونکو کډوالو ته څینې ځانګړې امتیازات په نظر کې ونیسي تر څو هغوی وهڅېږي او خپل هېواد ته راستانه شي، د بېلګې په ډول: د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې هغوی ته د کورونو او یا نمرو په وړیا ډول ویشل،

[49] Raja Irfan Azam, Analysis of Pakistan's Policy towards Afghan Refugees: A Legal Perspective, Op. Cit., P. 27.

[50] Report by European asylum support office "Pakistan situation of Afghan refugees", Op. Cit., PP. 81-84.

هغه افغان کډوال چې تعلیم او تحصیل یې کړی وي هغوی ته په دولتي ادارو کې د کډوالو د سهم په نوم بستونه ځانګړي کول او هغوی چې کسبونه لري په دولتي فابریکو کې د هغوی لپاره بستونه ځانګړي کول، هغه افغان کډوال چې له راستنېدو وروسته په ښارونو کې اوسېږي دولت باید د شپږو میاشتو یا یو کال پورې د هغوی د کور کرایه ورکړي، تر شپږ میاشتو یا یو کال پورې د هغوی د برق لګښتونه پر غاړه واخلي او هغوی چې ازاد کاروبار کول غواړي له هغوی سره مالي او یا هم تخنیکي همکاري وکړي. دا هغه ځینې امتیازات دي چې که افغان حکومت دا اعلان کړي، نو کېدای شي ډېر افغان کډوال خپل هېواد ته راستانه شي او دلته د عزت ژوند وکړي.

۴- افغان حکومت باید بنسټیزو بشري حقوقو ته درناوی وکړي او هغه په رسمیت وپېژني، لکه د حکومت د مشر او د چارواکو د انتخاب حق، په سیاسي پروسه کې د ګډون حق، د سیاسي ګوندونو او ټولنو د جوړولو حق، د شریعت په چوکاټ کې د ازادۍ او په ځانګړي ډول د رایې او بیان د ازادۍ حق، عادلانه محکمې ته د لاسرسي حق، د وړتیا پر بنسټ د دولتي بستونو د اشغال حق او داسې نور... که افغان حکومت دغه بشري حقوق ومني او عملي یې کړي، نو د ډېرو افغان کډوالو راستنېدو ته به زمینه برابره شي.

۵- افغان کډوال اکثره وخت د پاکستان او افغانستان د خرابو سیاسي اړیکو له امله هم له ننګونو سره مخامخ شوي دي، نو افغان حکومت دې هڅه وکړي چې له پاکستان سره د اړیکو د ښه کېدو په موخه د مذاکراتو ببلابېل چېنلونه پرانېزي او په اړیکو کې شته ستونزې سره حل کړي، افغان حکومت کولای شي په دې برخه کې د چین څخه د منځګړیتوب غوښتنه وکړي ځکه اوسمهال چین له دواړو هېوادونو سره نږدې او ښې اړیکې لري او بل دا چې د دواړو هېوادونو ښو او نږدې اړیکو کې د چین ګټه نغښتې ده، ځکه چین غواړي چې افغانستان د سیپېک غړی کړي او په سیپېک کې د پاکستان او افغانستان ګډ کار لپاره اړینه ده چې دواړه هېوادونه نږدې اړیکې ولري او د دې اړیکو په نږدیکت کې چین مهم رول لوبولی شي.

**دویم- د پاکستان حکومت رول**

پاکستان هم د افغان کډوالو د ستونزو د حل په برخه کې باید لاندې مسایلو ته پاملرنه وکړي:

۱- پاکستان باید د بین المللي حقوقو په رڼا کې د افغان کډوالو ټولو حقوقو ته احترام ولري او د هغوی حقوق په رسمیت وپېژني.

۲- اجباري اخراج د ټولو بین المللي موازینو او حقوقو خلاف عمل دی، پاکستان باید د افغان کډوالو له اجباري اخراج څخه ډډه وکړي.

۳- د ملکیت درلودل او تعلیم د هر انسان حق دی او د ۱۹۵۱ز.کال د کډوالۍ نړیوال کنوانسیون هم د کډوالو په اړه دغه حقوق په رسمیت پېژندلي، نو پاکستان هم باید د افغان کډوالو د ملکیت او تعلیم حق ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

۴- پاکستان باید د پولیسو له لوري د افغان کډوالو ناقانونه نیول، زورول او له هغوی څخه په ببلابېلو بهانو د رشوت اخیستلو مخنیوی وکړي.

۵- که پاکستان د افغان کډوالو ستنېدل غواړي، نو باید د افغان حکومت سره په تفاهم د یو ځانګړي میکانیزم له لارې دا کار وکړي، په یوازې ځان او په یو طرفه ډول پرته د افغان حکومت او افغان کډوالو له موافقې څخه دا کار کول افغان کډوالو ته ستونزې او ننګونې رامنځته کوي.

٦- پاکستان دې د افغان کډوالو څخه د فشار د یوې وسیلې په توګه ګټه نه پورته کوي، بلکې هغوی ته د بشري حقوقو په چوکاټ کې وکتل شي.

۷- پاکستان هم باید د افغان حکومت سره د اړیکو د ښه کېدو لپاره هڅې وکړي او د خپلې ستراتیژیکې ژورتیا پر پالیسۍ له سره غور وکړي او د یوې نوې معتدلې پالیسۍ په چوکاټ کې له افغان حکومت سره اړیکې ټینګې کړي.

**دریېم- د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري رول**

د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري یا The UN High Commissioner for Refugees (UNHCR) رول هم په دې برخه کې اړین دی او کېدلای شي په لاندې برخو کې هغوی خپل رول اداء کړي تر څو د افغان کډوالو ستونزو ته د حللاره پیدا شي.

۱- د افغان کډوالو د بېرته ستنېدو لپاره د پاکستان او افغان حکومتونو سره په ګډه یو میکانیزم رامنځته کول تر څو افغان کډوال متضرر نشي.

۲- د افغان کډوالو د ستنېدو پرمهال له هغوی سره مالي، لوجستیکي او د کمپونو د جوړېدو په برخه کې مرسته کول.

۳- د افغان کډوالو د حقوقو د نقض او اجباري اخراج د مخنیوي په برخه کې باید د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداره د خپلو راپورونو په خپرولو او د ملګرو ملتونو له لارې پر پاکستان فشار راوړي تر څو له دې کار څخه منعه شي او له دې لارې د افغان کډوالو د متضرر کېدو مخنیوی وکړي.

۴- هغه مرستې چې په پاکستان کې د افغان کډوالو سره د پاکستان په لاس ترسره کېږي د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداره باید په هغې کې د شفافیت د رامنځته کېدو ځانګړی میکانیزم رامنځته کړي او یا هم دغه مرستې په مستقیم ډول په خپله وویشي تر څو افغان کډوال له دغو مرستو برخمن شي او د هغوی ستونزې پرې حل شي.

۵- د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري مرستې یوازې هغو افغان کډوالو ته رسېږي چې هغوی (Proof of Registration(POR)) کارډ لري او هغه افغان کډوال چې ثبت شوي نه دي له هغوی سره مرسته نه کېږي، سره له دې چې د (POR) کارډ لرونکو په پرتله ناثبت شوي افغان کډوال له ډېرو ننګونو سره مخامخ دي او مرستو ته اړتیا لري، نو دغې اداره ته وړاندیز کېږي چې په خپله دغه پالیسۍ کې بدلون راولي او هغو افغان کډوالو سره هم مرستې وکړي چې هغه ثبت شوي نه دي او مرستو ته اړتیا لري.

**پایله**

پاکستان ته د افغانانو د کډوالۍ بهیر په ۱۹۷۹ز.کال کې هغه مهال پیل شو کله چې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ. په اتیایمو کالونو کې په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت ښه و او ستر لامل یې دا و چې د سړې جګړې پرمهال په افغانستان کې د شوروي اتحاد د ماتولو په موخه متحده ایالاتو پاکستان ته ډېرې مرستې رالېږلې او کله چې شوروي اتحاد مات شو، نو له نویمو کالونو راورسته تر اوسمهال پورې په دغه هېواد کې د افغان کډوالو وضعیت ښه نه دی.

په پاکستان کې افغان کډوال د زده کړو له ننګونو سره مخامخ دي، د کار رسمي مارکیټ او رسمي دندو ته لاسرسی نه لري، د ملکیت د ترلاسه کولو حق نه لري، په کرایه د کور نیولو له اوږد پروسیجر او په دې برخه کې له تبعیض سره مخامخ دي، له ۲۰۱۹ز.کال څخه مخکې یې بانکي خدمتونو ته لاسرسی نه درلود او له دغه کال وروسته یې چې بانکي خدمتونو ته لاسرسی پیداکړی، نو بیا هم له دوه سترو ننګونو سره مخامخ دي، یو دا چې د (POR) کارډ د تاریخ له تېرېدو سره د دوی بانکي اکاونټونو تاریخ هم تېرېږي او دویم دا چې په دې اړه هیڅ داسې کوم میکانیزم موجود نه دی چې له لارې یې د افغان کډوالو

کورنۍ وکولای شي د یو شخص له مړینې وروسته د هغه بانکي اکاونټ ته لاسرسی پیداکړي، د سیم کارټ د ترلاسه کولو په برخه کې هم محدودیتونه موجود دي، البته روغتیایي خدمتونو او حقوقي مرستو ته لاسرسی لري.

د دې ترڅنګ کله هم چې د افغانستان او پاکستان سیاسي اړیکې خرابې شوي، نو د افغان کډوالو پر وضعیت یې منفي اغېزه کړې ده، پاکستان د افغان کډوالو څخه پر افغانستان د سیاسي فشار د آلې په توګه ګټه اخلي او ځینې وخت یې له اجباري اخراج سره هم مخامخ کوي، افغان کډوال د پولیسو له خوا زورول کېږي او رشوت ترې اخیستل کېږي، همدارنګه افغان کډوال نشي کولای چې د ډریورۍ لایسنس جوړ کړي، نکاح خط ولري او ځینې نورو اسنادو ته لاسرسی ولري ځکه د دغو اسنادو د ترلاسه کولو لپاره د پاکستاني شناختي کارډ درلودل اړین دي. د څېړنې طرحه شوې فرضیه هم تر ډېره ثابته شوه چې په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت ښه نه دی او په دې برخه کې ستره ننګونه دا ده چې پاکستان له افغان کډوالو څخه پر افغان حکومت د فشار د وسیلې په توګه ګټه اخلي چې له امله یې افغان کډوال د اجباري اخراج، تبعیض او زورنې سره مخامخ کېږي. د دغو ټولو ستونزو د حللاره دا ده چې افغان حکومت، پاکستان او د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداره خپل مسؤلیتونه اداء کړي او له یوې خوا د افغان کډوالو د باعزته ستنېدلو ته لاره هواره کړي او له بلې خوا په پاکستان کې د اوسېدلو پرمهال د هغوی پرمخ پرتې ننګونې له منځه یوسي.

### مأخذونه


1- Abid Hussain. (3 Nov, 2023). Why am I being sent back?’ Hurt, anger for Afghans pushed out by Pakistan, Aljazeera, , Access link: https://www.aljazeera.com/features/2023/11/3/why-am-i-being-sent-back-hurt-anger-for-afghans-pushed-out-by-pakistan

2- Abid Hussain. (18 Mar 2024). Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan, Aljazeera, , Access link: https://www.aljazeera.com/news/2024/3/18/pakistan-launch-retaliatory-strikes-inside-afghanistan-raising-tensions?_gl=1*1nsvqv1*_ga*UFJCS2ZNTmk5NDYzZC1aNHhjbDlqcVZXckdDQTZETFBOSTRHX0hsZk9yUkluTG1pcFRRQnBfc2hfdGc4MlM0Rg..*_ga_XN9JB9Q0M1*MTcyODM5MjY3NS4xLjEuMTcyODM5MjY3Ni4wLjAuMA

3- Abid Hussain. (6 OCT 2023). Why is Pakistan planning to deport undocumented Afghans?, Aljazeera, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/10/6/why-is-pakistan-deporting-undocumented-afghans

4- Afghan Displacement Solutions Platform. (December 2018). On the margins: Afghans in Pakistan, Access link: http://www.acbar.org/upload/1562673003902.pdf

5- Amnesty International. (January 8, 2025). Pakistan: Renewed arrests, detention and harassment of Afghan refugees must stop, Access link: https://www.amnesty.org/en/latest/news/2025/01/pakistan-renewed-arrests-detention-and-harassment-of-afghan-refugees-must-

stop/#:~:text=The%20Joint%20Action%20Committee%20for,No%20Objection%20Certificate%20(NOC).

6- Brigadier MS Chowdhury. (July- September 2009). Pakistan's Strategic Depth, Journal of United Service Institution of India, Access link: https://www.usiofindia.org/publication-journal/pakistans-strategic-depth-2.html

7- CODE Pakistan. (November 2019). Afghan refugees in Pakistan-The Road Ahead, , Access link: https://codepak.org/wp-content/uploads/2022/01/Afghan-Refugees-The-Road-Ahead.pdf

8- Convention Relating to the Status of Refugees. (1951). United Nations, Access link: https://www.un.org/en/genocideprevention/documents/atrocity-crimes/Doc.23_convention%20refugees.pdf

9- Dennis Kux. (2001). The United States and Pakistan 1947-2000 Disenchanted Allies, THE JOHNS HOPKINS UNIVERSITY PRESS.

1. [1]0- Eduardo Cue. (2002). Notorious Jalozai refugee camp finally closes; Lubbers hails move, UNHCR, Access link: https://www.unhcr.org/news/notorious-jalozai-refugee-camp-finally-closes-lubbers-hails-move#:~:text=PESHAWAR%2C%20Pakistan%2C%20Feb.%2012%20%28UNHCR%29%20-%20The%20last,people%20lived%20and%20many%20died%20in%20deleterious%20conditions
2. [1]1- Ferreira, N. et al. (31 January 2020). Governing protracted displacement, TRAFIG working paper no. 3, Access link: https://trafig.eu/output/working-papers/trafig-working-paper-no-3/D031-TWP-Governing-Protracted-Displacement-Ferreira-et-al-2020-v03p-WEB-2021-06-22.pdf.pdf
3. [1]2- Golam Rasol Hasas. (2008). Jalozai camp closed, returnees face difficulties at home, The New Humanitarian, Access link: https://www.thenewhumanitarian.org/report/78506/afghanistan-jalozai-camp-closed-returnees-face-difficulties-home
4. [1]3- Ido Gadi Raz. (31 May 2023) Against all Expectations: Afghanistan-Pakistan Relations after the American Withdrawal, Electronic Journal of Social and Strategic Studies, Access link: https://www.ejsss.net.in/uploads/172/14621_pdf.pdf
5. [1]4- International Covenant on Civil and Political Rights of 1966, Access link: https://www.ohchr.org/sites/default/files/ccpr.pdf
6. [1]5- International Covenant on Economic, Social and Cultural Rights of 1966, Access link: https://www.ohchr.org/sites/default/files/cescr.pdf
7. [1]6- Jack Redden. (2005). Pakistan's census of Afghans provides first detailed profile of the population, UNHCR, Access link: https://www.unhcr.org/news/pakistans-census-afghans-provides-first-detailed-profile-population

8. [1]7- Jahan Ul Mulk, Basit Ali and Atta Ullah. (JANUARY 2020). IMPACTS OF AFGHAN REFUGEES ON SECURITY SITUATION OF PAKISTAN, PAKISTAN JOURNAL OF SOCIETY, EDUCATION AND LANGUAGE, VOL- 6 (1), Access link: https://pjsel.jehanf.com/index.php/journal/article/view/64
9. [1]8- Jane Thomas. (1995). Effects of Afghan Refugees on Pakistan. Ecological Fact-Finding Study Report, Peshawar, January 1995 Report, Access link: https://drive.google.com/file/d/146D5uwwEyZgupcaM6ABN0M5ApyLPSCuU/edit
10. 19- Larry Hanauer and Peter Chalk. (2012). India's and Pakistan's Strategies in Afghanistan: Implications for the United States and the Region, RAND Corporation, Access link: https://www.jstor.org/stable/10.7249/j.ctt1q6105.10
11. 20 - MARJOLEINE ZIECK. (2008). The Legal Status of Afghan Refugees in Pakistan, a Story of Eight Agreements and Two Suppressed Premises, Oxford University Press, Access link:
12. https://academic.oup.com/ijrl/article-abstract/20/2/253/1502834
13. [2]1- Mielke, K. et al. (August 2021). Figurations of Displacement in and beyond Pakistan, TRAFIG working paper no. 7, Access link: https://trafig.eu/output/working-papers/figurations-of-displacement-in-and-beyond-pakistan/D054-TWP-Figurations-of%20Displacement-Pakistan-Mielke-etal-2021-v02p-2021-11-05.pdf
14. 22- MUNIR AHMED. (20 NOV 2023). More than 400,000 Afghans have returned home from Pakistan following crackdown on migrants, The Associated Press, Access link: https://apnews.com/article/pakistan-afghanistan-migrat-crackdown-df89dc612fcf8ee9aa138414ff2034ec
15. [2]3- Nasreen Ghufran. (2018). Afghan Refugees in Pakistan; Current Situation and Future Scenario, University of Peshawar, Access link: https://www.researchgate.net/publication/329040563_Afghan_Refugees_in_Pakistan_Current_Situation_and_Future_Scenario
16. [2]4- Raja Irfan Azam. (2020). Analysis of Pakistan's Policy towards Afghan Refugees: A Legal Perspective, Riga Graduate School of Law, Bachelors Thesis, Access link: https://dspace.lu.lv/dspace/bitstream/handle/7/56528/Azam_RajaIrfan.pdf?sequence=1
17. [2]5- Report by European asylum support office. (2022). Pakistan situation of Afghan refugees, Access link: https://euaa.europa.eu/publications/pakistan-situation-afghan-refugees
18. [2]6- Roehrs, Christine. (2015). The Refugee Dilemma: Afghans in Pakistan between expulsion and failing aid schemes, Afghanistan Analysts Network, Access link:

19. https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/migration/the-refugee-dilemma-afghans-in-pakistanbetween-expulsion-and-failing-aid-schemes/
20. [2]7- Shigri, A.A. (1996). Report on illegal immigrants and Afghan refugees in Pakistan Government of Pakistan (GOP), Access link: https://easo.europa.eu/file/30904/download?token=17vIUnYM
21. [2]8- Sneha Swaminathan. (2 NOV 2023). Explained | Why is Pakistan asking 1.7 million Afghan nationals to leave its territory?, WIONEWS, Access link: https://www.wionews.com/south-asia/explained-why-is-pakistan-asking-17-million-afghan-nationals-to-leave-its-territory-654025.
22. [2]9- UNHCR. (2025). Afghanistan Situation, Operational Data Portal, Access link: https://data.unhcr.org/en/situations/afghanistan
23. [3]0- UNHCR. (10 February 2020). Pakistan - Refugee Education Strategy (2020-2022), Access link: https://data2.unhcr.org/en/documents/download/73890
24. [3]1- UNHCR. (2024). Refugee Data Finder, the UN Refugee Agency, Access link: https://www.unhcr.org/refugee-statistics
25. [3]2- UNHCR. (September- December 2016). REPATRIATION OF AFGHAN REFUGEES FROM PAKISTAN Revised Supplementary Appeal, the UN Refugee Agency, Access link: https://www.unhcr.org/pk/wp-content/uploads/sites/103/2018/05/UNHCR-Repatriation-of-Afghan-Refugees-from-Pakistan-Revised-SB-Sept-Dec.-2016-28OCT16.pdf
26. [3]3- UNHCR. (15 October 2018). Education: Afghan refugees studying in refugee villages, Access link: https://unhcrpk.org/education-afghan-refugees-studying-in-refugee-villages/
27. [3]4- Universal Declaration of Human Right of 1948, Access link: https://www.un.org/sites/un2.un.org/files/2021/03/udhr.pdf
28. [3]5- Zia Ur Rehman. (13 March 2022). Statelessness keeps young Afghan refugees away from education, News International (The), Access link: https://www.thenews.com.pk/print/940987-statelessness-keeps-young-afghan-refugees-away-from-education